مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۱۱/۲۴

# قیمتي جامې او وږې نسونه

## ماشوم پلورنه، د یوې غمیزې دوام

«تاند» په یوه نوي رپوټ کې د یوې بلې غمیزې یادونه کړې ده. دا ځل د طبیعت قهر او جبر دی او دا قهر او جبر چې د «اشرف المخلوقات» له ظلمونو سره یو ځای شي، بله بلا ورنه جوړیږي، داسې بلا چې لیدل خو یې لا څه کوې چې لوستل یې هم د انسان پر بدن ویښته سیخوي. دا خو جملې د تاند د راپور یوه برخه ده:

**«سي ان ان تلويزيون په هرات کې د وچکالی له کبله د بادغيس له ګنو بې ځايه شويو کورنيو سره خبرې کړې دي.**
**د هغوی په منځ کې يوه هم اکيله (عاقله) ده چې يوه سړي د خپل لس کلن زوی لپاره په ۳ زره ډالره اخيستې ده.**
**د نيويارک پوست ورځپاڼې د راپور له مخې، د بادغيس د بې ځايه شويو په منځ کې يوې بلې مور خپله ۴ کلنه لور پر يوه ۲۰ کلن سړي د دې لپاره پلورلې چې پور پرې کړي.**
**خو د اکيلې مور مرمرينه وايي چې د خپل زړه ټوټه پلوري.**
**مرمرينه وايي، لورکی يې نه پوهيږي چې پلورل شوې ده:**
**«دا په ځان خبره نه ده ، څنګه به پوی شي؟ دا ماشومه ده. خو ما بله چاره نه لرله. که ژاړي يا خاندي، بايد لاړه شي. څوک به د خپل زړه ټوټه وپلوري مګر دا چې ناچاره وي؟»**

دا پاسنۍ څو جملې د زړه سوی له بریده وړاندې، اور را اچوي، لمبه کوي مې او زه یې د افغان غمیزې یو بل څیرکی ګنم. په اوسني وخت کې یې د نورو پیغورونو او تورو داغونو تر څنګ یو لوی پیغور او تور داغ څکه ګنم چې:

**ـ د یوویشتمې پیړۍ په ۲۰۱۸ کال کې موږ نه یو توانیدلي چې حد اقل د خلکو نسونه ماړه کړو،**

**ـ دولتي واکداران مو، دهمدې وږو له پاره په رالېږل شوو پیسو داسې جامې او موټر اخلي او کاروي یې چې خیرات ورکونکو لا په خوب کې هم نه دي لیدلي،**
**ـ او...**

ځینو روڼ اندو او قلموالو د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د ښې پالنې او روزنې په پار، د ماشومانو او کوچنیانو د سواد او په نوي بنه د روزلو غم کاوه؛ اوس دا دی همدې ماشومانو ته د یوې مړی ډوډۍ د ترلاسه کولو له پاره میندې پلرونه هغوی څکه خرڅوي چې د کورنۍ پاتې غړي له مرګه وژغوري.
ماشوم پلورنه ستره غمیزه او د مجبوریت انتها ده. زما یادونه او سترګو لیدلی حال داسې وایي چې د ماشوم پلورنې دود زموږ په هېواد کې پخوا هم تېر شوی، خو نه په دې بڼه. زما د یاد بیلګه یې ورګرځي د څلویښتمې لسیزې پای او یا د پنځوسمې لسیزې پیل ته چې په غور ولایت کې د وچکالۍ په وجه د هغو سیمو خلک شاوخوا ولایاتو ته کډه شوي او سر یې ان تر کابله هم رسیدلی و.
هغه وخت هم له غور نه کډه شویو خلکو خپل ماشومان یا خرڅول او یایي پرته له پیسو، یوازې د ژوندي پاتې کېدو په پار خلکو ته ورکول.
هغه وخت زه (آصف بهاند) په محمود طرزي لیسه کې زده کونکی وم، د همدې مهاجرو څو ډلې د دارالامان د بڼ په شنو چمنونو کې اړولي وو. دا مهاجر وچکالۍ دومره ځپلي وو چې د دارالامان مانۍ په بڼ کې یې له رنو اوبو ډکو ویالو او شنو چمنو ته جنت ویلې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زموږ پلرنی کور د کابل د چهاردهي په دهمرادخان نومي کلي کې و. داسې هم وشول چې زموږ د کور دروازه وتړکول شوه، که ګورو د همدې مهاجرو له ډلې نه يو مجبور پلار ولاړ و او ويل يې چې دا ماشوم خرڅوم. زما پلار هغه سړی وپوښته چې ته ولې دا ماشوم خرڅوې؟
هغه وويل:

«ما سره يې نور د مړولو توان نه شته، په پيسو يې واخلئ، د ژوندي پاتې کېدو له پاره يې وړيا هم درکوم او...»

او اوس تاريخ د افغانستان پر ستيژ باندې، دا غميزه بيا په تکرار سره ښيي او لوبغاړي يې هم بيا په تکرار سره د هماغي سيمي خلک دي؛ خو توپير يې دا دی چې په پخوا وختو کې به دولتي مشرانو په رېښتيا د همدې په نس وږو له پاره ګدايي کوله او يوه، يوه مړی به يې د وږو تر خولې پورې رسوله؛ اوسنيو مشرانو ته د خيرات پيسې تر کوره رارسول کيږي، خو مسؤلين نه يوازې د خيرات پيسې تر خيرات خورو
پورې نه رسوي، بلکې خپله يې کاروي او زيـرمه کوي يې، تر خيرات ورکونکو نه ښکلې جامې او ښکلي موټر پرې اخلي او له ټولو مدرنو امکاناتو سره، ښکلې ودانۍ پرې جوړوي او بيا د ودانۍ پر پاسنۍ برخه ليکي:

## هذا من فضل ربي






**خرڅوي يې رهبران پـه سوداګرو**
**خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ